# په پښتنه ټولنه کښې د حجرې دودونه
# Customs of Hujra in Pashtoon Society

**Mr. Akhtar Zaman**[★]

**Dr.Noor Muhammad (**[★★]

**ABSTRACT:**

*Hujra is a common heritage of the Pashtoons. It is a place for general meetings, settlement of disputes, disbursement of khairat, holding of marriage and death ceremonies and for making public opinion about something. It is quite apt to their temperament. Those who are not familiar with their temperament they are forced to consider that Pashtoons and hujra are two inseparable things. Paktoonwali, pashto and Pashtoons are pillars of Hujra. In Pashtoon society it is hard to imagine a village without a hujra. Hujra represent a unique facet of the communal development of the Pashtoons. It is not only place for taking shelter but serve as a court for deciding quarrels among Pashtoons. It is a place for relaxation but it is also a place setting disputes among individual and between tribes.*

*The Hujra is one of the prominent epitomes of the Pashtoons civilization. It spreads light over the dark portions is incomplete without Hujra.*

**Keywords**:Hujra, Pashtoon,Customs, Pakhtoonwali,Pashto.

حجره د پښتنو شریک میراث دے ۔ دا د پښتنو د اجتماعي مجلس، د روغې جوړې، د راشه درشه، د خبرو اترو، د غم ښادی، د صلاح مشورې او ناستې پاستې ځاے وي ۔ چې د

[★] PhD Scholar, Pashto Academy, University of Peshawar.

[★] Assistant Professor, Pashto Academy, University of Peshawar.

دوي د مزاج او طبیعت عین مطابق دے او څوک چې د دوي د مزاج او طبیعت نه واقف وي هغه به دا کلکه مني چې پښتون او حجره دوه نۀ بېلېدونکي څیزونه دي ـ پښتونولي، پښتو او پښتون د حجرې ستني دي، چوکاټ دے او دروازه ده ـ او هم په دې ګوټ پېر کښې پښتونولی وده کړې ده ، پښتو سر ته رسېدلې ده او پښتون پوسې کړې دي ـ (۱)

د پښتنو په هر کلي او بانډه کښې حجره وي ـ دا د تجربه کارو او زیرکو د ګډون او اجتماع ماحول دے ـ د حجرې مثال لکه د نني دور د چتې په ورځو شپو کښې او بې روزګاره همېشه ، غرض دا چې د هر کسب، هنر او د فکر او علم خاوندان راغونډېږي ـ د خپل خپل علم ، پوهې او زده کړې خبرې کوي، مجلسیان مجلسونه کوي ، دغه خبرې اترې بحث مباحثې او مجلسونه تر نیمو نیمو شپو کېږي ـ شریکه ډوډۍ سره خوري ـ هر سړے د خپل کور نه خپل هر د خوراک پاخۀ څیزونه ځان سره راوړي ـ

د پښتنو په اولسي ژوند کښې حجره یو اهم کردار ادا کوي ـ حجره نۀ یوائې د ژوند د پناه اخستو ځاے دے بلکې دا د پښتون د پاره عدالت هم دے ـ د کلي اولس او د کور محلت د حال احوال وئیلو نه علاوه دلته نۀ صرف د دوو تنو بلکې کله کله د خاوندانو تر مینځه روغې جوړې هم کېږي ـ دغه رنګ د وادۀ ښادۍ په موقع هم دلته سازیان او سندر غاړي مجلسونه کوي:

سـازیانو شـابۍ مجلـس اوکـړئ

خانـــان ولاړ دي شــــنۀ نوټونــــه ورکــــوي

یـا بـه زمـا قسـمت خـراب وي

یـــا بـــه خانـــان د کـــوره تـــش راغلـــي وینـــه (۲)

د ټنګ ټکور په موقع باندې مجلسیان قسما قسمه ټپې کوي لکه د مثال په توګه:

چې مې جانان پـه حجـره ورشـي

زلمــي راپاســي ورتــه ســر پــه ســلام شــینه(۳)

حجره کښې ځیني وخت اهم اعلانونه هم کېږي ـ دغه رنګ چې کله دلتـه د ډز سره د غزا یا جهاد اعلان اوشي نو زلمي سمدستي په حجره کښې راغونډ شي او په جهاد یا غزا کښـې د ګډون اعلان اوکړي ـ

لکه وئیلے شي چې حجره د ټولو پښتنو شریک میراث دے ـ دا د یو تن یا څو تنو یا موروثي جائیداد نۀ دے ـ دې حقیقت ته په دې ډول اشاره شوې ده ـ

حجـــره د قـــام کلـــي د ســـره

د نیمـــو شـــپو مـــنګے زمـــا لالـــے وهینـــه

حجره د پښتنو د تهذیب د ټولو نه واضحه او ښکاره نخښه ده ـ دا یوه داسې رڼا ده چې

د پښتنو د اولسي ژوند هر تيارۀ ګوټ ئې روښانه کړے دے بلکه دا چې د پښتون پښتنواله د حجرې نه بغېر نيمګړې نيمه خوا وي دا هم دلته سر ته رسي . په دې وجه د پښتو اولسي شاعرۍ او خاص کر ټپې چې د اولسي ژوند په هر اړخ ئې رڼا اچولې ده د حجرې پحقله ئې هم ډېر څۀ وئيلي دي . هم د دې پښتني تهذيب له کبله زلمي خپل زيات وخت په حجره کښې تېروي .

حجره په پښتنو کښې دومره مقبوله ده چې پښتنو په ټپو کښې د دې په رنګ رنګ طريقو ستائينې کړې دي . د حجرې شهرت، ضرورت، حاجت او اهميت ئې په ګوته کړے دے او د دې په رڼا ښئ ئې خپلو د احساساتو اظهار کړے دے .

په دې لړ کښې به دا بې ځايه نۀ وي که د چيلم پحقله هم هغه ټپې وړاندې کړے شي چې ډېرې زياتې مشهورې دي ځکه چې چيلم د حجرې يو لازمي جز دے، دا د محفل سينګار دے او د غم غلطولو ذريعه ده .

چيلم په شرع ناروا دے

په ما روا دے د يار غم غلطوينه(۴)

رېټائرډ برېګيډيئر ګل مان شاه شبر افريدي د حجرې تعريف په دې رنګ کوي:

> "The Concept of Hujra with few rang of its Functions must have evolved over a long period of time in response to the Social, Political and Cultural demands of Pakhtun society and its People. Hujra is an Arabic word which bad probably been borrowed in Pashto after the Conversion of Pakhtuns to Islam. It denoted the living accommodation in the mosque complex but the word in Pashto language refers to means house in a village. We do not know the Pre-Islamic Pashto name for his institution but the roots of this concept must go back to ancient times. It is possible that the word hujra may be a changed form of ancient Greek word agora which meant an open space used for markets or public meetings etc." (۵)

پښتون رساله کښې سردار جمال د سوشل ميډيا د نوي دور "حجره" د ګودر، سنګر او پارليمان نوم باندې يو مضمون ليکلے دے، هغه وائي:

د سوشل ميډيا په شکل کښې يوه مضبوطه وسله ستاسو په لاس کښې راغلې ده نو د دې په ذريعه خپل غږ پورته کړئ او خپلو مسئلو ته متوجه شئ او بنۀ په نره دې مکارې اشرافيې ته ګوته ونيسئ . تيوس ترې اوکړئ او خپل حقوق ترې په زور واخلئ ، ځکه چې سوشل ميډيا د نن وخت حجره ده د چرته نه چې سترګور د فهم او شعور سبق خورولے شي . او اولس رابېدارولے شي او

که نه مونږه په دې طمع ناست يو چې يو ځل به بيا حجرې پرانيزو او د هلته نه به ځوانان چمتو کوو او راپېښو مسئلو به بندونه تړو ۔

د پښتنو د مېلمنو، کوربنو او د ټبر او کُهول د ناستې پاستې ځاے حجره بلل کېږي ۔ لـه دې پرته پښتانهٔ هغه کوټې چې د مسجد تر څنګ د طالبانو لپاره جوړې شوې وي او طالبان ژوند پکښې کوي دغې ته هم حجره وائي ۔ د حجرې په بـاب ډېـر ليکـل شـوي دي خـو زهٔ دلتـه يـواځې د آريانـا دائرة المعارف او د پښتنې قبيلو اصطلاحي قاموس څخـه کرښـې راوړم چـې د حجـرې پـه بـاب ښـهٔ بيان پکښې شوے دے ۔

> "حجره د مېلمه او مجلس لپاره خاص ځـاے دے ۔ پـه حجـره کښـې د کار او روزګار د پاره تعميمونه هم نيول کېږي ۔ د خانانو په حجـرو کښـې د تنګ ټکور مجلسونه هم کېږي ۔ حجره د امان ځاے هم دے کـه يـو ډېـر غـټ مجرم او قاتل هم د چا حجرې ته راشي مدعيان په حجره کښې کـار نـهٔ پـرې لري ۔ او تـر هغـه وختـه پـورې چـې دلتـه وي څـوک څـهٔ نـهٔ ورتـه وائـي ۔ د حجرې د کښېناستو په ادابو کښې دا شامله خبره ده چې مشر د مشر په ځـاے کښېني او کشر د کشر په ځاے ۔ " (۶)

ښاغلے عبدالحی حبيبي صېب د حجرې پحقله ليکي:

"پښتونولي خو په کور صحرا زده کېږي، خو د پښتنو د اجتماع ځايونه يا جومات دے، چې پښتانهٔ زلميان، پاخهٔ، زاړهٔ، واړهٔ، کوربانهٔ، مېلمانهٔ، وطنـي، مسـافران، مشـران، کشـران، هلکـان، خانان، سرداران، سوداګران، شاعران او عاميان، پکښې يوځاے کېږي ۔

په حجره کښې اجتماع نه علاوه مختلفې لوبې چې پښتنو کښـې ئـې رواج دے کېږي ، لکـه نشانه بازي، شمشېر بـازي، د مـرزو، سپو، ګډانو، غوايـانو، پهلـواني، کبـدي، شهسـواري، د تنـګ ټکور مجلسونه، يا قيصې او مشاعرې تر سره کېږي ۔

د حجرې د عمارت په حوالې سره که اوګورې، حجره يو ساده شان عمـارت ويچـې يـو يـا دوه کوټو باندې مشتمل وي ۔ حجـره د ټولـو خلقـو پـه شـريکه وي ۔ دلتـه دنـوي کُهـول معاشـرتي او اخلاقي روزنه کېږي ۔ پخوا به خلق د ماسخوتن د مانځهٔ نه پس په حجره کښې راټول شو ۔ د يـو بـل د حالاتو نه به خبر شول ۔ مشرانو به خبرې کولې او کشرانو به ورته غوږ نيولے وهٔ ۔ دغه شان بـه کشرانو د مشرانو نه د پښتو او پښتونولۍ سبق او طريقې زده کولې ۔ د پښتو زده کړه په کتاب کښـې نهٔ کېږي ، دا يو عملي څيز دے او د دې زده کـړه پښـتانهٔ زلمـي پـه حجـره کښـې کـوي ۔ دلتـه دوي ناسته پاسته، د مشر کشر قدر، د مېلمه پالنه او خدمت، اخلاق او ډېر داسې خويونه زده کـړي چـې د دوي کردار پرې ښائسته کېږي ۔ حجرې د سړو د ناستې پاستې ځـاے دے ۔ دلته غم ښـادي دودونـه کولے شي ۔ جرګې مرکې کولے شي ۔ پخوا چې ټـي وي او ډش وغېـره نـهٔ وو نـو د سـړو د تفـريح واحده ذريعه د حجرې محفلونه وو ۔ د حجرې دې محفلونـو د پښـتو د اولسـي ادب ډېـرو اصـنافو تـه وده ورکړې ده ۔ خلقو به په خوږ آواز ټپې، چاربېتې او قيصې وئيلې ۔

پخوا به په ټول کلي کښې يوه حجره او يو جومات وهٔ، اوس خو په هر خېل کښې خپله خپله

حجره او جومات وي ـ هغه خوند او مزه نشته خو بهر حال داسي اوس هم شته چي ټول کلے يوه حجره لري ، هغه کلي چي آبادي ئي ډېره زياته او سپوا وي هلته لوے لوے حجرې وي ـ چې د کلي په سطح روغي او نورې معاملې پکښې کولے شي ـ په څه حجرو کښې غټې غټې ونې وي او د هغه ونو په نوم باندې هغه حجرې يادېږي ـ

> "حجره يو کلب، يو ګېسټ هاؤس، يو کميونټي سنټر او کامن يعني عام هاؤس دے ـ چې هر چاته پکښې د ناستې پاستې اجازت شته ـ څنګه چې د اجتماعي ژوند بنيادونه کمزوري کېږي دغه شان د حجرې په رواياتو کښې هم لږ ډېر فرق راغلے هر چاته خان او خپل خپلې خپلې حجرې جوړول شروع کړل چې ډېره ورته وئيلے شي ـ "(۷)

د ټانک په ټولنه کښې هم د پښتنو نورو سيمو په شان نن سبا غم ښادي، سياسي جلسې او ولي بال ټورنامنټ په حجرو کښې کولے شي ـ په ټانک کښې داسي لوے لوے کلي لکه پائي او داسي نور د غم په موقع تر درې ورځو پورې نارينه په حجرو کښې دعا لپاره ناست وي ـ

په غټو غټو حجرو کښې د پروګرامو پروګرامونو سره مذهبي غونډې او جلسې هم کولے شي ولې چې حجره د کلي په سطح باندې د لوے ميدان په شان وي او هر طرف ته چار ديواري هم لري ـ نور الدين يوسفزئ په خپل کتاب "پښتون آرټ او کلچر" کښې چې په اُردو ژبه کښې ليکلے شوے دے، د حجرې پحقله وائي:

> بيا د خوږ ژړونو ټکور دے په حجره کښې
> داسې ګرم ټنګ ټکور دے په حجره کښې
> په حجره کښې فرق د خان او غريب نشته
> هر سړے د سړي ورور دے په حجره کښې (۸)

دې شعرونو کښې شاعر د حجرې ډېر ښۀ تعريف او مقام بيان کړے دے ـ حجره يو داسې ځاے دے چې هر وخت څۀ نا څۀ خلق پکښې ناست وي په پخوانو او موجوده حالاتو تبصرې او تذکرې کېږي ـ د ورځې وخت د کلي او باندو خلق د کار په غرض مختلفو علاقو ته ځي ـ او چې ورځې په دې وخت ئې څۀ هم ليدلي او کتلي وي ـ د شپې په حجرو کښې هغه ټولې خبرې بيانوي هغو خلقو لپاره چې د کلي نه چرته نۀ ځي ـ هغوي د پاره خو نوے مجلس او خبرې وي ډېر په لنډ او کم وخت کښې بغېر د ټي وي نه د علاقې هر څۀ نه خبر شي ـ حجره يو داسې ځاے دے چې هلته هر سړے يو برابر وي، د خان او غريب فرق نۀ وي ـ حجره يوه مدرسه او د زده کړې ځاے دے ولې چې هلته پخوا نه دا دستور راروان دے چې هلته مشر ته د مشر په نظر ګوري او کشر ته د کشر په نظر ګوري ـ هلته ناستې نه دا خبرې زده کېږي ـ

سهيل بېټني په خپل کتاب "د بېټنو تاريخ کښې" د حجرې پحقله وائي:

> "حجره د پښتنو يو زوړ دستور دے ـ حجره به په پخوانی زمانه کښې يوه نه يوه ضرور وه ـ او په دغو حجرو کښې به د کلي ټول خلق يوځاے کېدل او په حجره کښې د ميلمه ميلمستيا کېدله ـ په حجرو کښې به د ورځنيو خبرو او واقعاتو

> تذکرې کېدي ـ همېشه به حجره د جومات سره جوخته وه ـ نن سبا هم پښتنو کښې او خاص کر په بېټنو کښې هغسې شته خو د کلي خلق اوس په حجرو کښې ډېره کمه ناسته پاسته کوي ولې چې حجرې د جومات امام د پاره اوګرځېدې ، خو مېلمستیا هغه د پخوا په شان کېږي ـ نن سبا اکثرو خلقو ځان له حجرې جوړې کړي چې ورته بېټک وائي ـ" (۹)

حجره کښې اکثر د تنګ ټکور محفلونه ډېر وي ، پخوا به دا ضروري وه چې حجرې سره به جومات هم وۀ، جومات چونکې د مسلمانانو ډېر مقدس او د عبادت ځاے دے، مخکښې دومره پوهه خلقو نۀ لرله، چې حجره او جومات خو دواړه په یوځاے نۀ شي کېدے ـ

محمد جمیل جمیل کاچوخېل په خپل کتاب "اوس دې یادونه افساني ښکاري" د حجرې پحقله وائي:

> "حجره د پښتنو د پاره تهذیب، تمدن او کلچر دے که نۀ څوک ورته ثقافت او کلتور وائي ـ که ژوند ژواک دے، که روزګار ، غم دے که ښادي، پښتو ده که پښتونولي دا هر څۀ د حجرې نه بغېر نامکمله وو نامکمله دي او نامکمله به وي ـ ډېر په معذرت سره دا خبره لیکم چې کله پښتون حجره پرېښوده او بېټک ته ننوتے نو د پښتنو نه نیمه پښتو وتلې ده ـ عام جرمونه عموماً او اخلاقي جرمونه خصوصاً پکښې ډېر زیات شوي دي ـ اوس که مونږ په ایمانداری سره دا جاج واخلو چې د لر او بر پښتنو کښې چې په کومو علاقو کښې لا حجره او د حجرې روایت شته دے ـ د هغې ځایونو او علاقو زلمي او خلق په خوي، کردار ، ناسته پاسته، مېلمه دوستۍ او د یو بل عزت کولو کښې فرق دے ـ په پښتو او پښتونولۍ کښې ډېر پاندې دے په مقابله د هغو علاقو چرته چې حجره ختمه یا کمزورې شوې ده ـ"(۱۰)

حجرې په دوه قسمه دي، یوه هغه چې د چا خان ، ملک، سردار یا نواب ذاتي حجره وي ـ دا حجرې لا په څۀ شکل کښې پاتې دي ـ د دغه حجرو اوس هغه حېثیت پاتې نۀ دے او حجره والے پکښې ډېر کم شوے دے ـ اکثر ورته جندرې وي یا خوشې پرتې دي ـ دغه حجره زمونږ د اولسي ژوند آئینه ده ـ حجرې چې ئې خومره ښائسته و آرائیشي شوي دي زړونه دومره تنګ او ګنده شوي دي ـ د بعضې خلقو حجرې ته خو چې ورشې چاپېره به دربېې ګورې چې څۀ پټ نۀ کړې یا څۀ قیمتي خیز خراب نۀ کړې ـ

غریب خیرن مېلمه د ویرې نه ورتللے نۀ شي

د خان حجره خو اوس بنګله شوه شپه به ښکګ تېرېږي

بهر حال چې هر څنګه او هر قسمه وي ذاتي وي او که د شریکې، حجره خو بس حجره ده ـ د ژند ژواک، د زیست روزګار، د تهذیب، کلتور او پښتو، پښتونولي، مدرسه، پوهنتون، بلکې اکادمي هم وه ـ هم دغه اسمبلي وه، همدغه شادي هال وۀ، د فاتحه خوانۍ ځاے هم وۀ او د ټنګ ټکور محفل هم مسافر خانه، د دمې ځاے او هوټل وۀ ـ عدالت هم دغه وۀ ـ جګړې به بل ځاے کېدلې او فېصلې، ختمېدې به حجرو کښې ـ څنګه چې سپوږمۍ د زمکې نه او زمکې د نمر نه

چورلک خوري هم دا رنګه سوچه پښتو او اصلي پښتونولي د حجرې او جومات نه تاوېږي ۔ اکثر حجرې کورونه شوي دي یا کنډرې دي ۔ صرف د کلي په سطح باندي که چرته یوه نیمه حجره د استعمال قابلې وي ۔ دا هم اکثر خوشي او لوړې پرتې وي البته غم ښادي پکښي جاري ده ۔

حجره ډېر د مزې ځاے وۀ ۔ د ژمي ئي خپله مزه وه او د اوړي به ئي بېل خوند او مزه وه ۔ د هرې حجرې به څۀ ضروري لوازمات وو لکه چیلم، د منګو ګړونج، ډیوټ، منګے، ستار یا رباب وغېره به چرته په ګوټ کښي اوېزان وو ۔ تقریباً په هره حجره کښي به یوه غټه او لوے ونه ضرور وه ۔ اکثر به د تُوت، شوې یا غز وه ۔ زمونږ د کلي په حجره کښي لویه ونه د شوې وه او هغي شوې ونې په نوم باندي تر اوسه پورې یادېږي ۔ په اکثرو حجرو کښي به دوه کوټې وې ۔ یو به د مشرانو او دوېمه به د کشرانو لپاره وه ۔ یا به یوه د عام استعمال وه دوېمه به د مېلمنو وه ۔ که چرې کوټه به یوه وه ۔ د شپې د څۀ وخت پورې به پرې د مشرانو قبضه وه دا نۀ چې کشران به پکښي نۀ وو ۔ یو ګوټ ته به غلي ناست وو ګویا چې د حکمت، دانش، تجربې، کلتور، تاریخ، تربیت او د ژوندانۀ په پوهنتون کښي به ناست وو ۔ د مشرانو په خبرو کښي مداخلت (رادانګل) قطع کلامي، مشر له نیغ ځواب ورکول به ډېر بد ګڼلے شول ۔ اکثر پکښي قیصې، تاریخ او د شعر و شاعرۍ کتابونه لوستلي کېدل ۔ په دې کتابونو کښي داستان امیر حمزه، حاتم طائي، ګل اندامه بهرام، ګل صنوبر ، عادنامه، جنګ نامه، شاه نامه په آخر کښي د پښتو خپل کتابونه لکه یوسف خان شېربانو، آدم خان درخانۍ او داسي نور بلها کتابونه لوستلے شو ۔

په حجره کښي به چې د مشرانو محفل ختم شو نو حجره به کشرانو ته حواله شوه ۔ لونډان به په حجرو کښي ځملاستل ۔ د ګڼ خاندان به یوه یا دوه کوټې بیا به د ستار منګي مجلس شروع شو یا به ئې د وړوکوالي قیصې وئیلې ۔ داسې حجرې هم وې چې هډو هلکانو ته حواله شوې وې مشران به ئې په خوا نۀ ورتلل ۔ داسې حجرې مې هم لیدلي دي چې ډېرو هلکانو او مشرانو به پکښي ډوډۍ په شریکه خوړله ۔ په دې به ځان چاته بد نۀ ښکاره کېدو چې مونږ څۀ پخ کړي دي ۔ او نۀ ورله چا دا پېغور ورکولو چې چا به هر څۀ پخ کړي وي حجرې ته به ئې هغه راوړل ۔ داسې هم شوي دي چې د غربت وخت وۀ صرف چټنې سره به ئې ډوډۍ خوړله ۔ بهر حال چې هر څۀ به وو په شریکه به وو ۔ بلکې اکثر به ئې ترې کمزورے خوراک مخکښې کړو، چې احساس ورته ونۀ شي ۔ که د لارې مېلمه به وۀ نو دومره څۀ به وو چې د مېلمه به دا خیال شو ګني ماله ئې تیار کړے دے ۔ د دوه درې مېلمنو خو به پکښي هډو پته نۀ لګېده ۔ ښۀ ځیز به همېشه د مېلمه وۀ ۔ هم دغه وجه ده چې د حجرې د روایت د کمزورۍ سره د پښتون نړیواله شوره او مشهورتیا مېلمه دوستي که ختمه شوې نۀ ده کمزورې شوې ضرور ده ۔

پښتنو کښي مخکښي او اوس هم دا رواج شته چې که حجرې ته څومره هم لوے خلق او مېلمه راشي نو دوي چرګ او پلاؤ وغېره سره مېلمستیا کوي ۔

”یوه مشهوره واقعه ده وائي چې د شیخ سعدي  یو ملګري په یو ښېرته ښار کښي استوګن وۀ ۔ هغۀ به بیا بیا شیخ سعدي صیب له د راتلو بلنه ورکوله ۔ شیخ سعدي صیب به ورته د استاذ په خوله څۀ انه بهانه جوړه کړه چې خبره خفګان ته ورسېده نو ملګري ئې لیره دوپړه جوړې کړې ۔ سمدستي ئې د انواع

اقسام د طعامونو تيارے وکړو ۔ چې شيخ صيب د ډوډۍ نه فارغ شو يو سوړ اسوېلے ئې وکړو وې وئيل "هائے هائے خوان شيراز" ملګري ئې په زړۀ کښې پيکه شو خيال ئې اوکړو چې د شيخ صيب دعوت خوښ نۀ شو ۔ سبا له ئې ورله د هغې نه زياته خوشامنده برآمده اوکړه ۔ خو شيخ صيب بيا وئيل هائے هائے خوان شيراز په دريمه ورځ ئې ورله د ښار ټول معززين راجمع کړل خيال ئې دا وۀ چې مجلسي سړے دے ۔ ښکاري چې ځان له ډوډۍ ورله خوند نۀ ورکوي ۔ خو ولې بيا هغه کار اوشو او هم په هغه ورځ ترې شيخ صيب رخصت واخستو ۔

څۀ موده پس ئې دوست سوچ اوکړو چې شيراز ته لاړ شه چې اخر په شيراز کښې دے څۀ خوري ۔ دے چې کله اورسېدو نو د غرمې د ډوډۍ وخت وۀ ۔ شيخ صيب ورته سرکه او د اوربشو ډوډۍ کښېښوده ۔ د دوست ئې خيال دا وۀ چې نن به تيارۀ راغلے ئې سبا له مېلمستيا شروع شي ۔ سبا له ئې پرې هم ټول داسې خوراکونه اوکړل ۔ آخر د شيخ صيب دوست صبر نۀ شو او پوښتنه ئې ترې اوکړه صاحبه عجيبه ده ما درله دومره هر څۀ کول خو تاسو به آواز کولو هائے هائے خوانِ شيراز ماله خو دې په سرکه، ګبين او په يخنۍ ګُلمې وسېزلې ۔ ما خو خوانِ شيراز ونۀ ليدلو ۔ سعدي صيب ورته مسکے شو ۔ هم دا خوان شيراز دے تا چې ماله څۀ کول، که زۀ يوه ورځ نور ستاسره ايسار شوے وے نو يقيناً چې راباندې تنګ شوے او پښېمانه شوے به وې خو که تۀ ټول عمر زما سره دا تياره خورې زۀ به په تا تنګ نۀ شم ۔" (١٢)

دا خو لا د ايران قيصه ده ۔ پخوانو پښتنو خو به دا عيب او بد ګڼل چې درې ورځې دې د مېلمه نه دا تپوس اوکړي چې مېلمه چرته، څنګه، او څۀ له راغلے ئې ؟۔ ځکه چې په حجرو کښې دا تکلفات نۀ وو ۔ اوس چې نا اشنا مېلمه راشي نو د اوبو د څښلو نه پرې مخکښې د سوالونو باران جوړ کړو ۔ اوس خو خلق دا هم وائي چې د مېلمه درې قسمونه دي ۔ يو وي مېلمه بل وي مېلمه تندر او دريم وي تندر شرقي ۔

مېلمه خو هغه وي چې د مخکښې نه کوربه نه وخت واخلي او په وخت راشي او زر ترزره رخصت شي ۔

تندر هغه مېلمه ته وائي چې تۀ څنګه خپلې ډوډۍ ته کښېنې او آواز درباندې اوشي راځه مېلمه دې راغلے دے ۔

او تندر شرقي هغه مېلمه دے چې د جېبټ هاړ مياشت وي په خېټه کښې دې د خوراک ځاے نۀ وي ، دومره دې خوړلي وي ورپسې دې دوه درې جامه شوملې هم څښلې وي ۔ سر دې دروند وي ۔ او سترګې دې له خوبه مرغى مرغى کېږي ۔ چې زېرے درباندې اوشي چې مېلمه دې راغلے دے وېښ شه ، مېلمه دې راغلے دے ۔ نن سبا خو لا يوه بله خبره ده چې خلق وائي ياره مېلمه مې راغلے دے، څوک وۀ مره خور، خورځه او خوريونه مې وو ۔ يا د ترور، ماما او ترۀ زوے وۀ ۔ دې ته خو به چا مېلمانۀ چرته نۀ وئيل دا خو د کور خلق وو ۔ مېلمه په حقيقت کښې د الله پاک رحمت دے ۔ خو دې تکلفاتو ترې زحمت جوړ کړے دے ۔

ښخوا به په هره حجره کښې د یو نه یو قسمه قیصه مار او دوکړه خامخا وۀ ـ په حجره کښې د ټولو نه ښۀ او غوره خبره او دستور دا وۀ چې د کمزورې نه کمزورې او غریب سړې ته به هم د خبرو کولو حق حاصل وۀ ـ که د خان نه به ئې یا په مرضى خرې نۀ کولې یا ئې نۀ شوې کولے ګنې یو مشر به ورته غږ اوکړو فلانیه ! ته ﭘﮑښې هم څۀ اووایه کنه ـ یاره مشره یا خانه ! زۀ به څۀ اووایم چې به ګویان شو بیا به د چا پلار چپ کړے وۀ ـ اکثرې قیصې به د باچاهانو د خپلې ځوانۍ بهادرۍ، د ولیانو، پیرانو او بلاګانو وې ـ ځینو ځینو خو به ﭘﮑښې داسې ناروا دروغ دومره یقین سره وئیل چې دروغ به ئې رښتیا کړل، لکه یو مشر خبره کوله "اولنۍ روژه وه او د ښوارلسمې سپوږمۍ وه ـ بل وئیلې وو یوه شپه زل زول وۀ شرق باران ورېدو چا خپل لاس نۀ لیدلو خو د ښوارلسمې سپوږمۍ وه هر خوا د سباؤن په شان رڼا وه. په وخت پوهه نۀ شوم او جرندې له روان شوم ـ"

په "آریانه دائرة المعارف" کښې د حجرې په باب داسې لیکلې دي :

> "حجره د مېلمه د عزت، کښېناستو، چائے او ډوډۍ خوړلو مجلس او خوب ځاے، په حجره کښې د کور او کلي د کار روزګار خبرې اترې، د کور کلي او قبیلې د خپل مینځ کښې ستونزو او لانجو د تیرې او تجاوز، د تربور، خپلونو او ټبرانو تر مینځ د بدۍ د حل او فصل په اړه مرکه او جرګه جوړېږي ـ په حجره کښې د کورنیو او کلیوالو د غم ښادۍ او یو والي مراسم تر سره کېږي او حتی د ښادیو، د ماشوم د زیږیدو او د نورو خوشحالیو پر مهال په حجرو کښې ساز او سندرې وئیل کېږي ـ د خانانو په حجرو کښې د ټنګ ټکور مجلسونه جوړېږي ـ حجره په ښتنو کښې لوړ مقام لري ـ "[۱۳]

چرته چې ښتانۀ اوسېږي هلته به حجره ضرور وي ـ لږ شان بدلون ﭘﮑښې راغلے دے ـ اول به د ټول کلي یوه حجره وه اوس خلقو سره دولت او پیسې زیاتې شوې هر خپل خان له خپله حجره جوړوي ـ چې کوم خانان او نوابان دي هغوي بالکل خان ته حجره جوړه کړې وه ـ زمونږ ګاونډي هیواد افغانستان کښې هم د حجرو رواج شته ـ

حجره په افغانانو کښې د کلتور، عادتونو، ادب او سړیتوب د زده کړې ځاے دے او په حجره کښې د مشرانو او کشرانو خپل خپل ځایونه وي ـ حجره د ادب او سړیتوب لویه خزانه ده ـ په افغانستان کښې هم د وادۀ او نور مراسم حجره کښې تر لاسه کېږي لکه د وادۀ لاس نیوې پرېکوڼ او ولوَر خبرې هم کېږي ـ او د ښادۍ او بدۍ ورځې، د غم او مړي په وخت کښې حجره د مېلمنو د درنښت او عزت ځاے په مېن وخت کښې حجره د پوره مېلمستون، د مراسمو او د نشریاتو او خوړو د ځاے په توګه ګټل کېږي ـ حجره د افغانانو د سیاسي ژوند د زیاتو فعالیتونو ځاے دے ـ

حجره د ښتنو د ژوند لارو چارو د پاللو او هوارولو تر څنګ د ځوانانو لپاره د روزنې او زده کړې لپاره یو داسې مرکز دے چې پالل ئې د حجرې په خاوندانو فرض دي ـ د حجرې کلتور په ښتنو کښې له ښخوا راهسې راروان دے ـ د ښتنو په کومو قبیلو کښې چې حجره نشته هلته بیا د نغرې تر اوسه پورې پالل کېږي ـ نغرې ښتو اور بلولو ځاے، د پخلي ځاے ته وائي ـ

هغه قبيلې چې حجره نهٔ لري هلته د اوسېدو لپاره لوے خُوني وي د کوټې په سر کښې نغري وي چې د اور بلولو لپاره وي او د کورنۍ او د ټبر نر او ښځې، کوچنيان او لويان، سحر، غرمه او ماښام په دغه نغري باندې راغونډيږي . په دغه قيلو کښې نغري د زده کړې ځاے وي يعنې د حجرې کردار ادا کوي . پښتونوالي خوي بوي له خپل نغري څخه اخلي . د کور د خوني تر څنګ ئې له کوره لرې هم يوه لويه خُونه کښې چې کله مېلمانهٔ وي نو د کلي او د کوځې مشران او ځوانان د مېلمانهٔ لپاره راغونډيږي ځکه چې په خونه کښې د نغري کېلې (تغر) درنښت زيات وي . (۱۴)

لنډه دا چې په حجره او خونه کښې د پښتنو د ژوند لارې چارې تر سره کېږي . او د لارو چارو تر څنګه په حجره او خونه کښې د کوچنيانو د روزنې ښهٔ مواقع وي . خو د نغري درنښت تر حجرې او خونې په دې کښې زيات دے چې په نغري د ناريڼو او ښځو تر مينځ دومره توپير نهٔ ليدل کيږي . ځکه چې په نغري نر او ښځې يو شان راټوليږي . او د ژوند په لارو چارو کښې د نارينو نه څنګ د کور مشراني مېرمنې هم برخه اخلي . خو لنډه دا چې حجره خونه او نغري د پښتنو د مېلمه پالنې، کورنيو لارو چارو، قبائيلي ستونزو، بديو او خوشحاليو او زده کړې لپاره ډېر ضروري وي . ځکه چې په حجره او خونه کښې او په نغري باندې نهٔ يواځې پښتو او پښتونواله پالل کيږي بلکې د نوو ځوانانو او پيغلو لپاره د روزنې ښهٔ مواقع په لاس ورځي . د يادونې وړ ده چې د پښتنو خاوره او زمونږ حجرې د دغه پردي جنګ دومره زياتې متاثره کړې چې نور خو ئې پرېږده د پښتنو په حجرو ځانمرګي بريدونه هم وشوهٔ . چې دا په تاريخ کښې په لومړي ځل په يوويشتمه پېړۍ کښې د پښتنو د حجرو د تقدس د پښتونوالي له اُصولو څخه ناخبرو خلقو او زمونږ د حجرو زياته بې ترخې ئې اوکړه . د پښتنو په تاريخ کښې به دغه دور د يو پښتون هم هېر نهٔ شي .

---

## حوالې


1) داؤد،داور خان ، "پښتو ټپه" يونيورسټي بک اېجنسي پېښور، ۱۹۷۸ ، مخ ۳۰

2) همدغه اثر، مخ ۴۶

3) همدغه اثر، مخ ۵۸

4) مروت ،ملک شاهسوار ،"د پښتنو ثقافت هنداره"،يونائيټډ پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۲۱ء، مخ ۴۹ .

5) **Brig (Reted Gulman Sher Afridi), "Hujra", Pashto Academy, University of Peshawar, P 19**

6) ژړک ، محمد صادق، ډاکټر ، "پښتونواله"، رحمت ديوان، ۲۰۱۷ء، مخ ۱۰۶

7) ډاکټر بشرٰی خاتون، "د صوابۍ ثقافت هنداره"، دي پرنټ مېن پرنټرز اينډ پبلشرز پېښور، ۲۰۱۶، مخ ۱۳۵

8) يوسفزئی ,نور الامين ، "پختون آرټ اور کلچر"، اعراف پرنټرز نديم ټريډ سنټر،

محله جنگی پشاور، ص 157
9) بېټنے ،سهیل احمد ،"د بېټنو تاریخ"، دانش خپروندویه ټولنه، ۲۰۰۴ء، مخ ۵۴
10) کاچوخېل ، محمد جمیل جمیل ،"اوس دې یادونه افساني ښکاري"، عامر پرنټ اېنډ پبلشرز پېښور، ۲۰۲۰ء، مخ ۲۶۳
11) همدغه اثر، مخ ۲۸۶
12) همدغه اثر، مخ ۲۹۲
13) ژړک ، محمد صادق، ډاکټر ، "پښتونواله"، رحمت دیوان، ۲۰۱۷ء، مخ ۱۰۷
14) همدغه اثر، مخ ۱۱۵

## References

1. Daud, Dawar Khan Pakhto Tappa, Makh 30.
2. Han dagha asar, makh, 56.
3. Ham dagha asar, makh, 57.
4. Malak Shahwasar Khan,Da Pakhtani sakafat hindara United Printers Mahala jangi Pekhawar,2021,makh 49.
5.Brig (Reted Gulman Sher Afridi), “Hujra”, Pashto Academy, University of Peshawar, P 19
6. Zarak , Muhammad Sadiq Pakhtunwala , Rahmat Dewan 2017,makh 106.
7. Dr.Bushra Khatoon,da Swabai sakafat hinadara,The Print Man Printers and Publishers, Pekhawar,2016,makh 135.
8. Yousafzai, Noor ul Amin Pakhtoon Art aur Culture Aaraf Printers Nadeem Trade center Mahala Jangi Peshawar 2024.S.157.
9. Bettanay Sohail Ahmad da Bettani Tarikh, Danish Khaprowandoya Tolana 2014, makh 54.
10. Kachokhel,Muhammad Jameel Jameel,Os de yadoona afsany khakari,Aamir Print and Publishers Pekhawar, 2020,makh 263.
11.Ham dagha asar, makh,286.
12. Ham dagha asar makh,292.
13. Zarak , Muhammad Sadiq Pakhtunwala , Rahmat Dewan 2017,makh 107.
14. Ham dagha Asar makh 115